معصوم هوتک

۱۰/ ۱۲/ ۲۰۱۵

# رباط افغاني هم خرڅ سو[۱]

**رباط**-افغاني د هغي ودانۍ نوم و چي په مکه معظمه کي د دوه نيمو سوو کالو راهيسي د حج په موسم کي د بي وزلو افغانيحاجيانو ټاټوبی و . دا ودانۍ د لوی احمدشاه بابا په امر و سپارښتنه جوړه سوې وه چي په تاريخي متونو کي پر « رباط افغاني » سر بېره د «حاجی خانه» او «سليماني کاروانسرای» په نومو هم ياده سوې ده . عالمه عبد الحی حبيبي دافغانستان په تاريخي پېښليک کي د۱۱۷۰ق کال د پېښو په ترڅ کي د دغي ودانۍ نامه ته داسي اشاره لري : "..په مکه کي دافغاني حاجيانو له پاره سليماني کاروانسرای د احمدشاه په امر حاجي عبدالکريم بارکزي او حاجي محراب خان نورزي جوړکړ .." (ربيع اول ۱۱۷۰ ق) . ارواښاد غبار او ډاکټر ګنداسنګه هم دغه خبره تاييدوي . ارواښاد غبار ليکي : " احمدشاه درسال ۱۱۷۰ بواسطه دو نفر مامور خود مهراب خان و عبدالکريم خان افغاني عمارتی بنام (حاجی خانه) افغاني در شهر شريفمکه نيز اعمار فرمود ."(۱)

ډاکټر ګنداسنګه هم دې ته ورته بيان لري : "په ۱۱۷۰ ق (۵۷ - - ۱۷۵۶ م ) ده ) (حمدشاه - - هـ) محراب خان او عبدالکريم خان په مکه معظمه کي د افغاني حاجيانو د پاره د يو رباط د جوړولو په غرض هغه ځای ته ولېږل." (۲) رباط يا حاجي خانه د اعليحضرت نادرشاه په پاچهۍ کي له سره بيا ترميم سوه او سردار محمد داود په جمهوريت کيد کندهار يوه ديانت پېشه سوداګر مرحوم حاجي مال عبدالحق ( مشهور په حاجي ملا) له خپلي شخصي پانګي څخه ښه زياتي پيسي د دغه رباط په ودانولو او ترميمولو ولګولي . د رباط افغاني د پخواني شکل و جوړښت په باب زه پر ليکلو مدارکو پېښ سوی نه يم خو د يوه سرای شکل يې درلود په منځ کي يوه صفه ( تنګاچه ) وه او شا ته يې څو خوني پرتي وې .

په مکه شريفه کي د احمدشاهي عصر د نورو نخښو په باب يو محلي روايت داسي هم سته چي د کعبې شريفي د بام ناوه هم دلوی احمدشاه بابا په سپارښتنه له سرو زرو څخه جوړه سوې او پر بام نصب سوې وه . د دغه روايت ملاتړ په کتبي اسنادو کي نسته، يا ما نه دئ موندلی . د کعبې شريفي د بام ناوه د ( رحمت ناوه ) نوميږي او د حج په موسم کي زياتره افغاني حجاج په تېره بيا کندهاريان د هغي مخ ته د مازيګر او ماخوستن د لمانځه تر منځ کښېني او دا يو راز دود ګرځېدلی دئ .

سږ کال ما په مکه معظمه کي له يوه خواخوږي او ميلمه پال افغان ښاغلي اخندزاده صاحب (۳) څخه د نورو پوښتنو په ترڅ کي د رباط افغاني په باب تازه معلومات وغوښتل . نوموړي يوه شپه په حرم مطهر کي د ماخوستن تر لمانځه وروسته پر ځان تکليف ومانه او په ډېره مهرباني يې د رباط افغاني کتلو ته بوتلم . په دغه کتنه کي زما د سفر ملګری الحاج ډاکټر سلطاناحمد بارکزی هم راسره و . له بده مرغه د دغي تاريخي ودانۍ پر ځای مو هواره مځکه وليده چي د کڅافاتو يو کانتنير پکښې پروت و . د مځکي و يو اړخ ته يې يو کوټه پاته وه چي زما د مشاهدې په وخت کي يې څراغ بل و او معنا يې دا وه چي څوک پکښې اوسي . د احمدشاهي رباط افغاني يوازي همدا نخښه پاته و.

اخندزاده صاحب چي د کندهار د يوې مشهوري روحاني کورنۍ غړی دئ او له شلو کالو راهيسي په مکه معظمه کي له خپلو اولادو سره يو ځای اوسېږي، د دغي ودانۍ په باب راته وويل چي دا ځای زموږ د نېستمنو حجاجو

---

۱ - این مقاله از جانب یک خواننده همیشگی پورتال افغان جرمن آنلاین(ع.ا.عزیزی) فرستاده شده بود، ماهم آنرا به نشر رساندیم، متعاقباً نویسنده مقاله ، ضمن پیامی خواهش نمودند تا عکس صدیق چکری از مقاله اش حذف وعنوان نیز بگونهٔ فعلی اصلاح گردد. ادیتور


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

له پاره ډېر غنيمت و او زياتره به ملا عبدالغني کندهاري حجاجو ته د حج د مناسکو په باب تبليغ پکښي کاوه . په کابل کي د استاد رباني د واکمنی په وخت کي د دغه تعمير پر سر شخړه پېښه سوه او پر ودانی باندي د رباني پلويانو قبضه ولګوله خو د نورو افغانانو له مخالفت سره مخامخ سول او خبره ښيخي اخ و ډب ته ورسېده . په پای کي د استاد رباني پلويانو پر يوه عرب باندي په خورا لوی مبلغ خرڅه کړه او د پيسو له درو قسطونو څخه يي يو قسط تر لاسه کړ . عرب په خورا چټکی سره مالکانه تصرف پکښي وکړ او وداني يي له بېخه وکښه . نور دوه قسطه لا پاته وه چي په کابل کي د رباني اداره نسکوره سوه او د رباط افغاني مسأله همداسي لاينحله پاته سوه . اخندزاده زياته کړه چي د طالبانو له استازي سره يي د دغي ودانۍ د غير قانوني خرڅلاو په باب خبري کړي دي خو څرنګه چي له سعودي مقاماتو سره د هغوی په اړيکو کي څه ستونزه سته، ځکه نو داموضوع همداسي لاينحله پرته ده . دومره کارسوی چي دعرب له خوا د تعمير د بيا وداڼېدو کار ځنډول سوی دئ.

دا سيمه چي رباط افغاني پر ودان و، شارع شبيکه نومېږي او حرم شريف ته د متصلو بازارو په څنګ کي پرته ده . د دي ځای تعميرونه، هوټلونه او دوکانونه د سعودي شاهي کورنی د غړو يا له دغي کورنی سره د تړلو کسانو ملکيتونه دي . د رباطافغاني تر لاسه کولو ته عرب سوداګر مړه پراته وو.

زه له ښاغلو لوستونکو څخه غواړم چي که د دغي مسألي په باب نور معلومات چي زما د مشاهداتو په تاييد يا مخالفت يي لري، د عامه خبرتيا له پاره خپاره کړي . په داسي وخت کي چي زموږ د هيواد ټول هست و بود د بهرنيو دښمنانو په لمسون له منځه ځي، د هر هيوادپال افغان وظيفه ده چي د غو تباهيو په باب خپل مشاهدات نشر کړي او د راتلونکي تاريخ له پاره يي ثبت کړي .

معصوم هوتک

لمنليکونه

۱)احمدشاه بابا افغان –صفحه ۱۷۴ چاپ ۱۳۲۲ش کابل

۲)دراني احمدشاه ۴۴۹ مخ ۱۳۶۶ش کابل

(۳) دغه افغان فقير محمد اخنذاده نوميږي

د پښتو ژبي لوی شاعر عبدالقادر خان ختک ال پخوا ويلي دي چي :

سيند خوني، بادمخالف شپه توره ت

ګوره چيرته به سي سر زمــــــا جهازه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ